# د سادات کاکاخیلو منظوم شجره

لیکوال

حضرت سید شبیر احمد کاکاخیل دامت برکاتهم العالیه

فضل خدایه پهٔ ما وکړې پهٔ طفیل دَ رحمکارؒ — دَ بهادر باباؒ پهٔ مخ مې کړې بهادر قوي جرار

مست پهٔ مینه دَ الله مې کړې پهٔ مخ دَ مست باباؒ — دَ غالب باباؒ پهٔ مخ مې کړې غالب پهٔ نفس مردار

دَ آدم باباؒ پهٔ مخ مې آدمیت نصیب کړې ربه — کړې روان مې پهٔ خپل فضل دَ یسین باباؒ پهٔ لار

دَ سید حسینؒ پهٔ مخ مې عافیت خدایه نصیب کړې — دَ سید باقرؒ لهٔ مخه مې دا ژوند کړې خپل پکار

دَ سید محمودؒ آتا پهٔ مخ پهٔ لاره دَ محمود شوے — دَ سید احمد آتاؒ پهٔ شان شوے بچ لهٔ نفس مکار

زهٔ پهٔ مخ دَ سیف الدین باباؒ شوے جوړه دَ دین توره — دَ دښمن شیطان پهٔ مخ شمه ناساپه راګذار

هم پهٔ مخ دَسعدالدین باباؒ سعید زهٔ دائمي شم — دَ سیداکبر تومانؒ پهٔ مخ پهٔ دین شمه نثار

دَسیدلقمانؒ پهٔمخ مې لهٔحکمت ډک ژوندنصیب شوے — دَ سید علیؒ پهٔ مخ راکړے زړهٔ اؤ عقل بیدار

دَ سید حسینؒ پهٔ مخ مې برکت دَ ژوند نصیب کړې — دَ سید علیؒ پهٔ شان خپله جاه خپله کړمه زار

هم لهٔ مخه دَ امامِ اسماعیلؒ شمه قبول زهٔ — دَ امام جعفرؒ پهٔ مخ مې صداقت جوړ شي شعار

دَ امام باقرؒ پهٔ شان مې کړې وارث دَ انبیاؤ — دَ امامِ زین العابدینؒ خویونه کړم اختیار

دَ امام حسینؓ پهٔ مخ شوے زهٔ قربان دَستا دپاره — دَ حضرت علیؓ پشان راکړې ګفتار اؤ هم کردار

تاپیدا کړو کائنات خدایه پهٔ مخ دَ محمدﷺ چې — دَ هغهٔ پهٔ مخ اے ربه شم دَ ستاسو تابعدار

پهٔخپل فضل مې اے ربه دَخپل ځان کړې چې دَستا شم — جان و مال وخت مې قبول کړې ستا پهٔ مینه شم سرشار

فاطميؓ بي بي ته ووې پاک رسولﷺ خپل عمل ښهٔ کړه — تهٔ پهٔ دغې به خلاصېږې پهٔ دې نه چې یم ستا پلار

دا نسبت دَ سیدانو معتبر پهٔ دې دنیا دے — حسنؓ وائی آخرت کښې خپل عمل وي بس پکار

زهٔ پهٔ ناز دَ سید کښې عمل پرېږدمه خدایه — دَ شیطان پهٔ لمسه نهٔ شم جهنم ته زهٔ ګزار

کوم نیکونه چې زمونږ دي دَ عمل واړه غازیان وو — پدرم سلطان نعره دَ بې عملئ اؤ خطا کار

خدایه ما دَ لاف زنئ نه پهٔ امان کړې پهٔ خپل فضل — پهٔ دهوکو دَ نفس شیطان کښې چرته نهٔ شم راحصار